

# «د انۍ/انا له کوفتې نه دا شی جوړ شو»


د هغو زړو خلکو لپاره د ژوند اسانول چې په کور کې اوسېږي
د نغري حفاظتي جالۍ اوس ولګوئ

**ALT VI KAN MOT BRANN**

هر کال، ډېر زاړه خلک د اورلګېدنې په هغو پېښو
کې مړه کيږي چې د هغوی له خوا د خوړو تيارولو پر
وخت رامنځته کيږي. د نغري اورونه د ناروی په کورونو
کې د اور لګېدنو له ډېرو مهمو سببونو څخه يو دي، او
زاړه خلک د هغو په مقابل کې په ځانګړې توګه ډېر
زيانمنېږي. که ستاسو مور او پلار په کور کې اوسېږي،
تاسو کولی شئ چې د هغوی د ژوند د خوندي ګرځولو
په برخه کې مرسته وکړئ:

هغوی ته د نغري حفاظتي وسيله ولګوئ! که هغوی د
نغري ګل کېدل هېر کړي دغه وسيله په اتومات ډول
په نغري باندې برق قطع کوي. دا يوه پرځای پانګونه
يا د پيسو لګول دي چې کولی شي هغوی له اور څخه
خوندي کړي.

په دې ورځو کې، د نغري حفاظتي وسیله یا خوندي کوونکی په ټولو نویو کورونو، او هغو زړو کورونو کې چې بیا په کې وایرونه تېرېږي یو ضرورت دی. د نغري حفاظتي وسیلې کېدای شي چې نصب کړای شي، دا فرق نه کوي چې تاسو څه ډول نغری لرئ، او دغه وسیلې په ډېرې اسانۍ سره کارول کیږي. ځینې خلک کولی شي چې په خپله سیمه کې د مرستندویو ټکنالوجیکو وسایلو له مرکز نه د نغري خوندي کوونکې وسیلې په پور واخلي. تاسو کولی چې د توصیه شویو موډلونو په هکله او دا چې تاسو چېرې کولی شئ چې وایې خلئ معلومات په sikkerhverdag.no ویب سایټ وګورئ.



**ALT VI KAN MOT BRANN**

Alt vi kan mot brann [ټولې هڅې – د اورلګېدنې پر ضد]، د اور اخیستنې د مخنیوي یو داسې نوښت دی چې د ګڼو ادارو له خوا رامنځته شوی دی. د دې نوښت هدف دا دی چې خلکو ته هومره زیاته پوهه ورکول شي چې ممکنه وي څو له هغوی سره مرسته وشي چې د اورلګېدنې خطر یې کم شي.

مونږ به بېلابېل له خطر سره مخامخ خلک او ګروپونه د ملي او محلي ګامونو له لارې د خپل کار هدف وګرځوو او هغوی ته به معلومات او پوهه ورکړو. هدف دا دی چې بېلابېلي هڅه موسسې متحرکې کړو چې د اور لګېدنې د مخنیوي ماهران دي، او د عین هدف د ترلاسه کولو لپاره به شریکې هڅې وکړو: چې د اور لګېدنې پېښې ډېرې راکمې شي. زمونږ ډېر تمرکز به د خلکو په هغو برخو وی چې د اورلګېدنې په صورت کې یې د مړینې خطر ډېر وي.

دا نوښت د اور په هکله د مفاهمې لپاره د همغږۍ د ملي ګروپ په واسطه ترتیب شوی دی. دغه ګروپ د ملکیانو د خوندیتابه د ریاست، د برق د خوندیتوب د څارنې د محلي مقاماتو (Det lokale eltilsyn)، د ناروی د اور څخه د خوندیتابه ټولنې، ناروی او د ناروی د اورد خوندیتوب ټولنه تمویل کړئ اداري (Branninformasjonsforum)، د ناروی د چمنیو د پاکولو خدمتونه اداري (Feiermesternes landsforening)،

د ناروی د اور وژنې د افسرانو ټولنې، د سیالو کمپنیو د راجستړ (Sakkyndige selskap)، او NELFO څخه تشکیل شوی دی.

« Alt vi kan mot brann /ټولې هڅې – د اورلګېدنې پرضد» داسې یو نوښت دی چې له اور څخه د خوندیتابه د ملي مفاهمې د ستراتیژۍ له خوا رامنځته شوی دی.

sikkerhverdag.no #altvikanmotbrann

dsb Norwegian Directorate for Civil Protection

Norsk brannvernforening

Finans Norge

NELFO

Norsk brannbefals landsforbund

Feiermesternes landsforening

SAKKYNDIGE SELSKAPER · DET LOKALE ELTILSYN · BRANNINFORMASJONSFORUM

DSB 2015